رنا گل اریوبزی ۲۰۱۷/۰۴/۱۱

# دوه سره حکومتولی او که فاسدالطوایفی

فساد یوه داسی جاذبه قوه لری چی دجان کری په فرمان کی انځور شوی دوه سره حکومت هم دوو سرو ته نه پریږدی، نور غټ او واړه سرونه را پاروی او دسیالی ډګر ته یی داخلوی. پدی معامله کی اشرف غنی پدی فکر کی و چی سر یی په اساسی قا نون کی دعبدالله تر سره یو څه معتبر دی او عبدالله به دامنی که دقانون سره ډغری نه وهی.عبدالله عبدالله دا مفکوره بیخی ونه مله. ده ویل چی دجان کری په فرمان کی زما سر دغنی د سر سره له سره برابر دی، نه بهتر دی نه کمتر دی او د جان کری فرمان خو د اساسی قانون نه څو ځله زورور دی. تر هغو به نیغ نیغ کیږم او ګوابنیږم تر څوچی دغنی د سر سره د خپل سر برابر حق ته ورسیږم. د حکومت پدی دوره کی عبدالله یوازی په همدی ټکی لګیا دی، بل کار یی معلوم نه دی، دغنی سره په دعوا دی.

د سرو پدی غوغاکی، له تشنج ډکه فضا کی ضیا مسعود هم را بیدار شو او ولاړ شو، په لوړ اواز یی وویل چی که چری انصاف وی نوټول به دا منی چی زما سر د ټولو سرونو سر ور دی، د نظار شورا نه در اګوښه کیدو او د مقام لپاره د غنی د ټیم سره د یو ځای کیدو داسی ډرامه بل سر جوړولی نشی او د سواد په دومره کمه کچه دی مقام ته رسیدلی نشی. هیڅ سر زما د سر په شان ښه حکومتولی تنظیمولی نشی، پنځه پنځوس ملیونه ډالره په یوه بکس کی ځایولی او د دوبی له بندره تیرولی نشی.

دضیا مسعود خبری لا سرته نه وی رسیدلی چی دوستم په غرمبهار شو، له خماره را بیدار شو، سخت په قار شو او ویی ویل چی هر سر باید خبر شی او که نه خاوری به یی په سر شی، چی زما سر تر ټولو سرو غټ دی او هم کلک دی. کم زیات ځلوښت کلونه کیږی چی جنګیږی، له جنګ نه ستړی کیږی، به وژلو نه مړیږی، په جګړو کی نه ماتیږی، نه خوړکیږی او بل سر ته نه ټیټیږی. ایشچی او اکبری می شخصی مال دی چی دا یی حال دی. زه د دوی خاوند د دوی ښښتن یم، بل څه نه یم له تاریخه ګیلم جم یم. دا قاضیان، ښارنوالان ټول احمقان دی چی زما اطاعت نه کړی، بی واکه بی اختیاره دلالان دی، د زرو او د زور چی غلامان دی نو زه د دوی بادار یم او دوی می چاکران دی او زما سره چی جنجال کړی کور یی وران دی، د ایشچی په لور راوان دی.عطا محمد نور هم بیځایه نیغ نیغ کیږی، په لار کی می درېږی، له زده کړی دی بی برخی نه پوهیږی چی زما سر د ارګ د کچی سردی او په ارګ کی هم اوسیږی او د ده سر بی سر نوشته، ارزښت یی ولایت ته نه رسیږی، دا سر دی ارام کښنی او که نه زما د لاسه به ورکیږی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

عبدالله چې په ارګ کې دسرونو جنجال وینې نو موسکی شي، په خنداشي، له میزه پدې خواشي، په میدان کې په نڅاشي او له ځان سره وایي چې دغنی د سر په وړاندی نور سرونه چې پیداشي، دغني د سر ارزښت یو څه کمیږي، ارګ به ښکته کیږي اوسپیدار به پورته کیږي. دی لا ډوب دی رنګین خیال کې، د بوډې ټال کې زنګیږي هم ناڅیږي چې دعطا غږ یې تر غوږ شو، د رنګین خوی نه راویښ شو، ویل یې ای پروردګاره اوس به څه چل کیږي.

عطامحمد نور په زغرده اعلان وکړچې سر یې تر ټولو قوی سر دی چې له یوې خوا د دوستم دغټ سر سره په ټکر دی او له بلې خوا همدا سر دی چې د عبدالله سر یې د حکومت یو سرکړ او په واک کې یې د غني دسر سره برابر کړ. اوس د ده د سر له لاسه پریشان یم، په خپل کار ډیر پښیمان یم. زه دوه کاله سرپرست وم ، دی مې له حاله نه خبریږي، زه دوستم سره په ټکریم، دی مې څنګ ته نه دریږي. دعبدالله سر ناشکره، ډارن، بې وسه او مذبذبه سردی، هیڅ شک نشته چې دا ډیر نامرده سردی او د نامرده سر ټک دلړم له ټکه هم بدتر دی. دا سر خو د حکومتولي په الفبا هم پوهیدلی نشي او د اشرف غني نه د جمعیت پنځوس سلنه حق غوښتلی نشي. د دی ټولو پایله داده چې زما لاره جدا اودعبدالله لاره جدا ده، فیصله ده پټه نده برملا ده.

عبدالله چې د عطا دا غوری پرړی واوریدلی «بابیزه» یې وګڼلې او ویې ویل چې د عطا کاواکه سر د پاملرنې وړ سرنه دی او دا سر لا تر اوسه خبر ندی چې د نظار شورا د جمعیت دمنځ غنچه ده، د مفسدوخزانه ده او عطا هلته چرته لرې دڅنډې یوسړی دی، په دی چې نه پوهیږي، خبرنه یم چې دا سردی اوکه له ختو جوړ منګی دی.
د ارګ سره تګ راتګ کې ځانته نوی پلان جوړوی، نوم دجمعیت په خوله کې، ګټه د ځان لټوی، د ځان د سود لپاره نوی ملګری غواړی، نوی یاران لټوی. هلته په کندار کې یو بل زورور سر دی، دا سر ځکه پخپل سردی چې د کرزي د لاس نیالګی دی، لکه چې نوم یې رزاق خان دی، د وژلو پهلوان دی او په فساد کې شین زمری دی. وایي چې رتبه یې جنرالی ده، وظیفه یې امنیه قو مندانی ده، خو په عمل کې هم څارنوال دی هم والي دی، هم قاضي دی او هم مفتي دی. هر څه چې غواړی،هغه کیږي، دا ټول عالم له ده ډا ریږي، که څوک یې نه خوښیږي هغه شپه په شپه ورکیږي، بیا ژوندی نه پیدا کیږي.

دا خو ټول سرونه ندی چې مې یادکړل، څه نور سرونه هم شته د سرونو په غوبل کې، پدې لیک کې نه ځاییږي،هر یو وبل ته ناست دی دسیالیو په مورچل کې، په چور نه سره جوړیږي، یوبل ته چې ګواښیږي، بل قانون، روزګار او کلتور نشته د وحشت پدې ځنګل کې، د غني سر پکې ورک شو، د سرونو په یرغل کې، هیڅ تاثیر یې څرګند نشو د غلو پدې محفل کې.

د کرۍ دغه پروژه، شوه بې شکله او بې مزه. نه دوه سره حکومتولي شوه، نه سیاسي نظام ترې جوړشو، څه بې سره انارښي شوه، سپین سترګی غلواکي شوه، فاسدالطوایفي شوه، که پخوانی جنګسالاري شوه. او د کرۍ داسې پرژه شوه چې په پښو دریدای نشي. په فساد کې دومره ډوبه ده چې ځان ترې ایستی نشي، پدې رنځ چې څوک اخته شي، بیا ترې لاس اخیستی نشي او فسا چې څوک شل شوټ کړي، له پښو پریوزي، د پردیو په منترو، په لښکرو او ډالرو دوباره جوړیدای نشي. داسې ښکاری چې امریکا هم اوس یو څه پوهیږي چې دفساد دغه امباریې اوړو بارشو، د عمل یې دا سزا شوه دایي روزګار شو، نه پوهیږي چې منزل ته به رسیږي او که نیمه لار کې

پاتی کیږی. دا حالت ډاکتر ځیرکیار په ځیر ځیرلی دی او دی پایلی ته رسیدلی دی چی افغان دولت د امریکا د اور پرتوګ شو، که یی اغوندی سوزیږی او که یی غورځوی شرمیږی چی لوڅیږی.

دا خو داسی ډرامه شوه چی یی پای نه اټکل کیږی، له ملکه دوزخ جوړ شو لوی واړه پکی سوزل کیږی، څوک الوزی په بمو، په توپونو راکټونو ویشتل کیږی، له اسمانه هم بمونه پر وریږی، وژل کیږی هم چور کیږی او کورونه یی چی ورانیږی بلی خواته وکوچیږی، له هرځایه شړل کیږی.څوک بحرونوکی غرقیږی، وږی تږی، بی دوا اوبی طبیبه له رنځونو نه خلاصیږی.خدای دی ورک کړه ای فساده ملک دی وران کړ،رنګ مو ورک شه فاسدانو، دخاوری دلالانو، ستاسی خیتی نه ډکیږیږی، ولس ځکه تباکیږی.

پای